نجیب منلی


۲۱ جولای ۲۰۱۱

## گز او میدان

تېره اونی د مسوولیتونو د لېږد بهیر رسماً پیل شو. لکه چي تمه یي کېده د افغانستان د حکومت مخالفین په دغه ورځ لاس تر زني کښېنه ناستل، پر انترکانتیننتال هوټل یي مرګونی برید وکړ. له بل لوري پاکستان هم د څو اونیو را په دي خوا پر افغانستان د توغندیو اورول پیل کړي دي او د اسي ښکاري چي پاکستاني استخباراتي – نظامي کړی غواړي د مسوولیتونو د لېږد په درشل کي د افغان حکومت زغم و ازمیېي. ایران هم د دوستانه موسکا په پلمه خپل غابنونه ښکاره کوي، کله ولسمشر کرزي ته د افغانستان د خپلواکۍ انځور تلقینوي او کله د خپلو توغندیو د وېشتلو ورتیا اعلانوي.

د لېږد د پروسي د همغږۍ مسوول ډاکټر اشرف غني احمدزي بیا په وارو وارو وویل چي افغانان به پري نه ږدي چي دا فرصت یي هم له لاسه ووځي. ښاغلي احمدزي ولس ته ډاډ ورکړ چي د ډاکتر نجیب د رژیم د سقوط سناریو به بیا نه تکرارېږي او له چارواکو یي وغوښتل چي له ولس سره سپیني خبري وکړي، په دروا‌غجنو ژمنو د خلکو د تېرایستلو تینګ شوي رواجونه مات کړي.

د انترکانتیننتال هوټل برید او نوري امنیتي ستونزي چي په دي تېرو څو ورځو کي را منځ ته شوي، یو ځل بیا د افغانستان د حکومت پر امنیتي ستراتیژۍ د غور له پاره بلنه را کوي.

افغان امنیتي چارواکي چي ظاهراً اوس هم د ساړه جنګ د وخت نقشي ګوري او د ورځي سیاسي حالاتو ته د شلمي پېړۍ په نیمایي کي د جوړو شوو تاکتیکي او ستراتیژیکي عینکو تر شا ګوري، د امنیتي ځواکونو ځومره والي ته ډېر پام کوي او ځرنګوالی یي پر ځای پری ایښی.

که د ملي دفاع وزارت دی، که د کورنیو چارو وزارت دی، که د ملي امنیت ریاست دی، که امریکایي جنرالان دي او که زموږ په مطبوعاتو کي د نظامي او امنیتي چارو شننونکي دي، ټول په یوه خوله د افغان امنیتي ځواکونو د تجهیزاتو او مالي ستونزو یادونه کوي خو د دغو ځواکونو ماهیت او کیفیت ته ډېره کمه اشاره کېږي. د کانتیننتال هوټل پېښه یوه خورا مناسبه موقع ده چي د افغان امنیتي ځواکونو ځرنګوالی هم و څېړل شي : وسله وال

مخالفین په دې وتوانېدل چې په داسې وخت کې چې عادتاً امنيتي تدابير تر بل هر وخت جدي او دقيق وي، ياني کله چې د هېواد د څلوردېرشو ولايتونو د لومړي کتار مسوولين پر يو ځای را غونډېږي، له وسلو او چاودېدونکو توکيو سره نه يواځې دا چې د هوټل محوطې ته ننوتل بلکې په هوټل کې يې پاخه سنګرونه هم ونيول او عمليات يې هم وکړل. له کمې لحاظه به ګرانه وي که څوک ووايي چې په کافي شمېر امنيتي پرسونل نه و موجود او يا دغه پرسونل په کافي اندازه مجهز نه و. دلته بايد د امنيتي پرسونل کيفيت او څرنګوای تر پوښتنې لاندې راشي.
د لېږد د پروسې په درشل کې، لکه ښاغلي احمدزي چې وويل، بايد د افغانستان حکومت ولس ته ډاډ ورکړي چې له ستونزو سره سره به هېڅکله هم د لېږد په پروسه کې ناغېړي نه کېږي خو د دې تر څنګه بايد افغان حکومت ولس ته د ممکنو او متصورو ګواښونو په اړه کره او دقيق معلومات وړاندې کړي او ولس دې ته چمتو کړي چې په معقول حد کې قرباني ومني. د دې تر څنګ بايد چې زموږ سياست جوړوونکي يه جدي توګه د افغانستان د امنيتي ځواکونو د وظايفو، مکلفيتونو، لنډمهالو، منځمهالو او اوږدمهالو ستراتيژيکو موخو په اړه ولس ته يو روښانه انځور وړاندې کړي. نور نو د افغانستان حکومت او "نړیواله ټولنه" د دې وخت نه لري چې په تيوريکو ماډلونو فکر و کړي. د عمل په ډګر کې بايد عملاً ثابته شي چې وړتيا شته
. خبره د ګز او د ميدان ده. ميدان مو معلوم دی خو د اندازه کولو له پاره يې کوم ګز په کار دی، دا خبره بايد چې د ولسونو او حکومتونو تر منځ روښانه وي. ډېر ځله د کارونو د ښه کېدو له پاره ډېر امکانات نه وي په کار، که موضوعات په روښانه ډول او د صداقت له مخې مطرح شي کېدای شي چې د ستونزو د حل له پاره خورا اغيزمنې، کم مصرفي او د وخت له ضرورتونو سره سمې لارې ومينډل شي. سياست وال بايد دې خبرې ته متوجه وي چې مسايل که هر څومره تخنيکي هم وي کېدای شي له ولس سره شريک شي.